Ahmad Shah (Wahdat)
A.E.P.O.

SHARIAT WEEKLY

شريعت

اوونيزه

په اوونۍ کې دوه ځله خپريږي

دافغانستان دطالبانو داسلامي تحريک مرکزي نشراتي ارگان

دريم کال دولسمه گڼه پرله پسې (۱۱۲) يکشنبه د۱۳۷٦ هـ ش کال د کب دمياشتې (۱۷) د۱۹۹۸ ميلادي کال مارچ (۸) د۱٤۱۸هـ ق کال ذوالقعده الحرام (۹)

الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي ! . همدا (عدل) ډيـر نـږدې دی تقوا(پرهيزگـاری) ته .
(سورة المائدة)

معاون شوراي سرپرست امارت اسلامي افغانستان در جلسه مسؤولين ملکي، نظامي، واليان و ولسوالان زون شرق در جلال اباد اشتراک نمود

محترم مولوي عبدالکبير معاون شوراي سرپرست و رئيس تنظيمه زون شرق به تاريخ ۱۵ حوت در جلسه مسـؤولين ملکي، نظامي، واليان و ولسوالان زون شرق در شهر جلال اباد اشتراک نمودند.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر ميدهد در جلسه که محترم ملا خير الله خيرخواه سرپرست وزارت امور داخله محترم ملا عبدالمنان نيازي والي ولايت کابل و محترم ملا عبدالله والي ولايت خوست نيز اشـــــتراک داشتند.

محترم سرپرست وزارت امور داخله و محترم والي کابل بالترتيب پيرامون مسـؤوليت هاي واليان، ولسوالان و مسـؤولين ملکي و نظامي زون شرق صحبت نموده مکلفيت هاي بعدي آنانرا برجسته ساختند.

حکم شوراي سرپرست در مورد تبديل سال هجري شمسي به هجري قمري و عيار ساختن تمامي امور امارت اسلامي افغانستان مطابق آن

به موجب تعميل هدايت عاليقدر امير المؤمنين ملا محمد عمر مجاهد منبعد اساس تقويم امارت اسلامي افغانستان سال هجري قمري به عوض سال هجري شمسي منظور است .

ص «٤»

سفير امارت اسلامي افغانستان درپاکستان با محترم رئيس جمهور جمهوري اسلامي پاکستان ملاقات نمود

محترم مولوي شهاب الدين دلاور سفير امارت اسلامي افغانستان در جمهوري اسلامي پاکستان قبل از ظهر روز دوشنبه با محترم رفيق تارړ رئيس جمهور جمهوري اسلامي پاکستان ملاقات نمود.

طي اين ملاقات طرفين روي مسايل سياسي ...

د کمبوديا پخوانی صدراعظم شهزاده رانارید په پنځه کاله بند محکوم شو

د کمبوديا د نظامي محکمي يو تن قاضي د کب په ديارلسمه دغه هيواد گوښه کړای شوي صدراعظم شهزاده رانارید په غير قانوني توگه کمبوديا ته د وسلو د واردولو په جرم په پنځه کاله بند محکوم کړ.

د شهزاده رانارید دغه محاکمه د يوي سياسي محاکمي په توگه د شهزاده ډيلوماتانو او د بشر د حقوقو د کار کوونکو له خوا په سملاسي توگه وغندل شوه.

شهزاده رانا رڅ به چي په تبعيد کي شپي سبا کوي د کب د مياشتي په وروستيو وختو کي د امنيتي مسئلو په تور هم محاکمه شي. او اوس حق نلري چي تر هغي دکمبوديا په راتلونکو انتخاباتو کي ځان کانديد کړي تر څو د کمبوديا پاچا او دده پلار نورو دوم سهانوک دي ونه بخښي.

د رانارید محاکمه او بخښنه د جاپان په منځگړيتوب د سولي د هغه پيشنهاد يوه برخه ده چي هم شهزاده

ص «٤»

د اندونيزيا په ځنگلونو کې د اور لگيدل د پنځه اتيا ميلونو دالرو زيان سبب شو

د اندونيزيا په ځنگلونو او بوټو کي نوي اور لگيدني پنځه اتيا ميلونه ډالر تاوان رسولي دي او دي هيواد ته بي د زيان لوي تهديد مخ کيږدي.

د اندونيزيا ماموريتو په دي اړه ويلي دي چي اور لگيدنه ددغه هيواد د ختيځ د کاليمانتان په ايالت کي پيدا شوي او د پراختيا ډير خطر يي اتله دي .

په خبـر کي ويل شوي چي د اردو عسکر ، محصلانو او د اور وژني عمله د وژني په کـار بوخت ده او په ځـانگړو تاکتيکونو سره ددغي اوروژني په لاره کي کار کوي.

د اندونيزيا د ځنگلونو او بوټو لرونکو ځايونو سوزيدلو د تير ميلادي کال د اپريل او دسمبر د مياشتو په منځ کي هم د دري ژره هکتاره په شاوخوا ...

خوشبختانه امروز زنان افغان از حقوق کامل اسلامي مستفيد بوده و زمينه کار براي هر زن افغان در چوکات شريعت اسلامي مساعد است

خانم بنينو ميخواهد با دور کردن حجاب اسلامي، عزت و عفت ما را پامال کند

من به صفت يك زن مسلمان افغان به خانم بنينو ميگويم که ما زنان افغان توانمندي اين را داريم که در تعيين سرنوشت خويش خود مصمم باشيم

ما زنان مسلمان افغان هيچگاه به خانم بنينو اين حق را نميدهيم که حجاب اسلامي و ملي ما را مورد توهين قرار دهد

خانم بنينو به جاي اين کمپاين بي بنياد يك کمپاين تعليمي، صحي و فرهنگي را براي زنان افغان راه اندازي نمايد

ما متيقن هستيم که طالبان از حقوق اسلامي و ملي زنان افغان با قاطعيت حمايت و پشتيباني ميکنند

خوانندگان محترم! طبق گزارشات رسانه هاي خبري جهان، قرار است که امروز يکشنبه هشتم مارچ سال ۱۹۹۸ ميلادي ...

اداره هفته نامه شريعت با ...

ص «٤»

د عقيدتي او بهرنيو ژبو د کورس د فارغانو تصديق ليکونه وويشل شول

د عقيدتي او د بهرنيو ژبو د کورس د فارغانو تصديق ليکونه د يوي غونډي په ترڅ کي وويشل شول.

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړي په دي غونډه کي له هغه وروسته چي د کلام الله مجيد څو ايتونه ولوستل شول د پلان وزارت کفيل محترم قاري جمال الدين د فارغانو د ځلورم مخ

د کندهار اتصارية کمپ کي د اسلامي امارت د ملاتړ په خاطر غونډه جوړه شوه

... محمد محمدي د پاکستان د

ص «٤»

مسابقات انتخاباتي تيکواندو بين ۹٦ کلب آزاد ورزشي در کابل آغاز گرديد

د افغاني سري مياشتي د ټولني د بشري مرستو مواد د کندهار، هلمند او زابل ولايت سيلاب ځپلو کورنيو ته وليږل شول

کورنيو له واستول شول.

خبر زياتوي چي ددغي موادو له کاروان سره د سري مياشتي گرځنده روغتيا يي ټيم هم ملگري دي چي د ناروغانو او ...

کاروان د روانيدو په وخت کي د افغاني سري مياشتي د ټولني محترم عمومي رئيس په عادلانه توگه د موادو د ويش او د پيښي د ناروغانو د علاج په باب پيتکار وکړ.

جنسي آزادي والي؟!!! ايډز تر اوسه دولس ميلونه خلك وژلي دي

د ايډز د وژونکي ناروغي په اثر چي اکثره د جنسي بي بندوباري او بد اخلاقي له امله رامنځته کيږي تر اوسه پوري دولس ميلونه انسان يي د دنيا نه تللي دي.

د نړيوالو خبري سرچينو د خبر له مخي : په نړيو او تازه شميرنو کي ويل شويدي چي په تير ۱۹۹۷ کال کي په نړۍ کي او په ځانگړي ډول په لويديځو هيوادونو کي د ايډز ناروغي د ښکار شوي کرچپانو شمير ډير شويدي او ډير مليونو او لسو زرو ته رسيدلي دي .

په خبـر کي ويل شويدي چي په ۱۹۹۷ کال کي د ايډز د ناروغي له کبله ٤٦٠٠٠٠ تنه کرچپان وژل شويدي.

معلومه شويده چي د ايډز د وژونکي ناروغي له تشخيص

... طبقي محروميت ورځ په ورځ ډيريږي

... په زندان کي ...

په ۱۹۸۱ کال کي ... ځلور مونه زره ... له استعمال نه اغيزمن شويدي

ډير شمير ... د سرطان ... په ناروغيو اخته دي

ځلورم مخ

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

انگازي بيا تودي شوي

له هغه وخته چي د افغانستان د اسلامي امارت مخالفين د هيواد له زړه د کابل ، نه ايستل شوي دي د هيواد د تجزيي، خداي مکړه - انگازي خوري وي دامي اړکل کيده چي د اسلامي امارت مخالفين د روسانو د هغه تخريبي پلان لړۍ ته دوام ورکوي چي د هغه د تطبيق لپاره يي کارمل او نجيب ته قومانده ورکړ ... چي مزار شريف د هيواد د پاي تخت په توگه تر پام لاندي ونيسي او د ...

... د مخالفينو له ټولو کړوړونه او د ...

چي ... د افغانستان د اسلامي امارت مخالفين د هيواد ، هيوادوال او اسلام دښمنان او پرديو پروتوکولي مزدوران دي ، د روس او ايران د غوښتنو پوره کولو لپاره د هيواد تجزيه څه چي د هيواد خرڅولو ته هم چمتو دي، نو ځکه د هيواد د تجزيي انگازي له هغه وخته راهيسي چليږي او کله کله دغه انگازي ډيرې تودې شي.

په دغه وخت کي چي حکمتيار له ايران نه مزار ته راستون شوي دي دغه اوازي يو ځل بيا ويري تودي شوي دي :

که څه هم حکمتيار وايي : زه د سولي او کشالي ختمولو د هڅو لپاره راغلي يم، مگر له دي خبري نه چي دي وايي : (د مسعود تهران ته راتلو او ډير اصرار کولو او د شمال د نورو قوماندانانو په غوښتنه راغلي يم

دوهم مخ

شریعت

دامتیاز خاوند : دافغانستان دطالبانو اسلامي تحریك
دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندي
مسؤول مدیر : الحاج مولوی عبد الرحمن احمد «هوتك»
مرستیال : ملا أسد الله «حنیفي»
دیوي ګڼي بیه : په هیواد کي (۱۰۰۰) افغانۍ په پاکستان کی (۳) کلداری
پوست بکس : (٤۷۱)
په پیښور کي :دطالبانونمایندګی ټیلفون: ۸٤٤۳۳۱-۸۱۸۱۵۷-۸۱۵٦۲۷
جاري حساب : ٤۰۳۸۵/۷ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : دولتي مطبعه

د سرمقاله پاتي برخه

...:) کتونکي داسي استنباط کوي چي مسعود او د ایتلاف ملګري یې سوله نه غواړي له دي امله يې د علماوو کرامو کمیسیون ته پلمه لټوله او دغه پروسه يې د غیر علماوو په معرفي کولو سره شاته وغورزوله نو ځکه به يې حکمتیار د سولي لپاره را غوښتي وي؛ ، کتونکي په دي باور دي چي حکمتیار يې د خپل نظامي او سیاسي دریځ د ټینګولو او د هغه شوم پلان د عملي کولو لپاره را غوښتي دي چي روس، ایران، ازبکستان او نور د اسلام دښمن ځواکونه يې په افغانستان کي پیاده کول غواړي او د هغه لپاره يې له پخوا نه مجاهد نما ځواکونه مزدوران کړي او زیات مالي او نظامي لګښتونه يې وریاندي کړي دي ویل کیږي چي روس، ایران، ازبکستان او د اسلام نورو لویو دښمنانو حکمتیار ته د هغي پروسي په عملي کولو کي چي دوي يې په افغانستان کي غواړي ډېر امتیازات منلي دي او غټي سیاسي ژمني يې ورسره کړي دي؛

که چیري - خدا مه کړه- دغه اوازي رښتیا وي نو بیا خبره خطرناکه ده، ځکه حکمتیار له امتیازاتو سره ډېره مینه لري او د هغو د لاس ته راوړلو لپاره يې د شوروي په ضد جهاد له وخت نه د حزب اسلامي بي شمیره مخلص او پیاوړي مجاهدین بي ځایه قربان کړي دي، په ډېرو اتحادونو او ایتلافونو کي يې د خول او خروج کړي دي په تېره بیا د هیواد ښکلي پلازمیني (کابل) په ورانولو او زرهاوو ښاریانو په شهادت رسولو کي يې پوره ونډه اخیستي ده او دغه کار ته يې پنځه ویشت کلونه نور هم په پام کي نیولي ؤ .

او که چیرته له (حکمت) ته کار واخلي، له پخوانیو يې شمیره سیاسي او نظامي غلطیو ته يې پند اخیستي وي او د ایران د نظر بندي په وخت کي د ایراني چارواکو په اخلاقي غلطت، بدو نیتونو او دښمنیو پوه شوي وي، بیا که چیري په رښتیا له خپل هیواد او اسلامي نظام سره يې مینه وي او یا يې اوس په زړه کي پیدا شوي وي نو بیا کیداي شي چي راستنیدل يې د اسلامي نظام ، ملي استقلال او ځمکني بشپړتیا په ګټه تمام شي؛

که هر څه کول غواړي دا خبره جوته ده چي دي به تر هر څه دمخه د حزب اسلامي د پخوانیو قوماندانانو د راضي کولو، را ټولولو تنظیمولو او خپل واك لاندي راوستلو هڅي وکړي، هغوي ته به مالي او سیاسي تسلا ورکړي او په دغه ترتیب سره به هڅه وکړي چي خپل پایللي دریځ بیرته کلك کړي، که په دغه پروسه کي بریالي او ډاډ من شي نو بیا به خپل ما في الضمیر عملي کول پیل کړي؛ څرنګه چي د اسلام دین نصیحت (خیر خواهي) دي موږ د یوه مسلمان او مجاهد په صفت د خیر خواهي داسي مشوره ورکوو چي : د افغانستان مجاهد او ځورېدلي ولس چي د طالبانو د اسلامي تحریك قربانیو له برکته يې امنیت میندلي دي، د ارامي ساه يې اخیستي ده او مړ ژواندي هیلي يې را ژوندي شوي دي دغه لاس ته راوړني د نویو طرحو په وړاندي کولو او بیرته له سره د ګډو ډېو پیل کولو سره دله منځه وړلو هڅي ونه کړي چي خداي مه کړه ، یو ځل بیا هغه د اوښکو او وینو صحني تکرار شي او افغان مجاهد او با تور ملت د لازیاتو ویرونو په ټغر کینول شي،

بلکي د (حکمت) غوښتنه داده چي په (حکمت) او هوښیاري سره لاس ته راغلي امنیت او ډاډ ته ټینګښت او پراختیا ورکړي تر څو د دنیا او اخرت له خسران نه وژغورل شي .

نصیحت بجاي خود کردیم روزګاري درین بسر بردیم
ګر نیاید بګوش رغبت کس برسولان بلاغ باشد وبس

«سعدي»

هدایت امیر المؤمنین

خلیفه اسلام حضرت عمر بن عبدالعزیز «رح» احساس نمود که مردم در اداي نماز وقت را ابتدي نمي کنند. به تمام امرأ و حاکمان وقت فرمان صادر کرد و هدایت داد تا در وقت نماز تمام کار هاي رسمي را بند نمایند، زیرا کسي که نماز را ضایع کند معلوم مي شود او تمام فرایض را ضایع مي نماید.

علاوه ازین در تمام مُلک دار الخلافه اسلامي در هر جا بطور عملي وقاطع براي اداي نماز اهتمام کرد و براي موذنین تنخواه مقرر نمود.

در مسایل دقیق و احکام فقهي بحث و مباحثه بي جا و تکرار کردن را خوب نمي دانست و سخت مخالف بود و مي فرمودند :

وقتیکه کدام قومي را دیدید که در پیشروي عامة الناس این چنین مسایل را مطرح مي کنند بفهمید این تعداد مردم بنیاد ګمراهي را تهداب ګذاري مي کنند .

زه دا هسي دیوانه او مجنون چا کړم ؟

پتي پاڼي

شهرت ننګیال

پدي وروستیو کي داسي ټکان ورکوونکي خبرونه خپاره شوي چي نړیوال استکبار د بیوزلو او وروسته پاتي اسلامي هیوادونو له بدي ورځي او فقر نه په ګټي پورته کولو سره غواړي هغوي له خپل دین نه وګرځوي، پدي اړه عیسویت او قادیانیت ته د اړولو پروسه ډېره ګړندي شوي او ددي له پاره د داسي مادي امتیازاتو د وړاندي کولو پروګرامونه عملي کیږي چي هغه ددغو هیوادونو د وګړو لپاره له کړاوجن ژوند نه د وتلو لومړي ګام ګڼلي شي .

له کراچي نه خپریدونکي اوونیزي «تکبیر» پخپله وروستني ګڼه کي پدي اړه د خپلو باوري او حساسو منابعو له خولي لیکلي : اروپا او امریکا ته د پاکستانیانو د تلو یوه نوي لاره په ګوتو شوي، پخوا دغو هیوادونو ته د قاچاقي تګ او هلته د اوسیدو لپاره شپږ لکه پاکستاني کلدارو ته اړتیا لیدل کیده خو اوس ددي کار لپاره یواځي د قادیانیت تاپه ضروري ده او بس ، معنا دا چي هغه څوك غواړي له پاکستان نه ووځي او په اروپا او امریکا کي ژوند وکړي هغه به ځان قادیاني معرفي کوي او د پولیسو په ماموریت کي به د ځان په اړه د قادیانیت د تبلیغ په تور د دوسیي او الزام سند وړاندي کوي، کـه په اخباري سطحه يې څه شواهد وړاندي کړي شول نو بهرته يې تګ نور هم اسانه کیږي .

پدي لړ کي د قادیانیت د سوګند، تور اواسنادو له مخي پناه غوښتونکو ته یو لړ ځانګړي امتیازات ورکول کیږي چي نور پناه غوښتونکي تري بي برخي دي .

تکبیر زیاتوي چي د شلګونو کسانو د فهرست فوتوکاپي په لاس کي لري چي ځانونه يې قادیانیان کړي او پر سوګند پاڼه يې هم لاسلیکونه کړي دي .

لدي پرته عیسویت ته د مسلمانانو د اړولو لپاره داسي پروګرامونه تر لاس لاندي نیول شوي چي د لومړنیو ښوونځیو زدکوونکي چي ذهنونه يې خام وي په بیلا بیلو لارو چارو جلب کړي .

د یوه بل خبر له مخي تر اوسه د بیلا بیلو مؤسسو له لاري توي زره افغانان چي زیات شمیر يې پخواني کمونستان دي عیسائیت ته اوښتي دي چي یو شمیر يې بیا اروپا او امریکا ته لیږدول شوي دي .

یو وخت داسي ؤ چي افغانانو ته د شوروي اتحاد د یرغل او د لاس کیڼولي رژیم د ځارني او ګواښ له امله بهرنیو هیوادونو سیاسي پنا ورکوله چي د نور له کودتا مخکي رژیمونو لوړ رتبه مامورین يې په لومړي سرکي دي . پدي اړه ځینو ایجنسیو هم په قاچاقي توګه افغانان اروپا او امریکا ته لیږدول او د هغو هیوادونو د قوانینو له مخي به سیاسي پناه ورکول کیده .

د نجیب رژیم له نسکوریدو سره بهر ته د افغانانو د وتلو بهیر نور هم پراخ او ګړندي شو خو د پناه غوښتلو او منلو سرلیك بدلون وموند او هغو اشخاصو ته پناه ورکول کیده چي د خلق، پرچم د ګوندونو او کمونستي رژیم سره به يې د تړاو اسناد وړاندي کولي شول .

له همدي ځایه وه چي ډېرو په اصطلاح پخو مسلمانانو هم ځانونه د کمونستي رژیم برېڅي معرفي کړل او په ځانونو يې د خلق، پرچم، خاد او ... ټاپي ولګولي دوي به د سند په توګه د ګوندونو په اخبارونو کي د ځان په اړه د تعقیب او نیوني خبرونه خپاره کړل تر دي چي ځینو اخبارونو ته يې د ځان په اړه له ګواښ نه ډك بیانونه او لیکني ورکولي چي د اخبار د چلوونکي د خولي په خوږ ولو سره به په غټو تورو خپاره شول .

ددغي لړۍ یو کړي دا هم وه چي د ګوند یا پخواني دولت د خپروني د یوه خبر پر ځاي به يې د ځان په اړه له ګواښ نه ډك خبر چي له کمونیزم او خاد سره به يې دده تړاو څرګنداوه په هماغو حروفو او ډیزاین کمپوز او پیسټنګ کـړ او څـو ګڼي به يې چاپ او دخپل پناه غوښتني د جواز په توګه وړاندي کولي .

پدي توګـه د پرون د ظلم تخښنه د نن مظلومیت شو پخوا د پناه اخیستلو او منلو عنوان د کمونیزم ظلم او تهدید ګڼل کیده او اوس هغه ظلم او تهدید مظلومیت وګرځید او کمونستان مظلومان شول چي د بهرني نړي د خوا خوږي وړ وګرځیدل.

اوس بهر ته تګ د یوه داسي ضرورت بڼه نیولي چي ځني کورني دا خپل توهین او حقارت ګڼي چي څوك اروپا یا امریکا کي نه لري پدي توګـه د زرګـوتو ډالرو تاوان او نور مرګوني خطرونه مني خو بهر ته د تلو سبالي پوره کوي .

که څه هم افغانستان د نړي د ډېرو بیوزلو هیوادونو څخه ؤ خو د مینې او جذب اغیزیي دومره ؤ چي په تحصیلي بورسو کي تللي بیوزلي افغانان به هم د تحصیل له پاي ته رسیدو وروسته پدي تلوسه کي ؤ چي څومره ژر کیداي شي خپل هیواد ته ستانه شي .

دوي بـه د اروپا او امـریکا له آرام او سوکاله ژوند سره په مخه ښه وکړه او د خپل هیواد جونګړو ته به راوګرځیدل .

د احمد شاه بابا په وینا :

دَ ډیلي تخت هیرومه چي را یاد کړم
زما د ښکلي پښتونخوا د غرو سرونه

داسي ولي وشول؟ افغانان له وطن نه په تیښته چا اړ او رووږدي کړل د وطن د مینې او جذب قوه او تلوسه يې چا و ځپله ، له خپل وطن نه يې زړونه ولي تور شول، ولي او څوك يې تر خوږي ګوتي نیسي او له مجبوریتونونه يې ناوړه ګټه پورته کیږي ؟ داسي په سلګونو نوري پوښتني شته چي لازم ځواب او حل غواړي.

رحمان بابا وایي :

زه دا هسي دیوانه او مجنون چاکړم ؟
له رواجه له رسومه بیرون چا کړم ؟
توان توفیق خو د فتنو را څخه نه ؤ
په فتنو د تورو سترګو مفتون چا کړم ؟

په اسلامي نظام کي د ښځو اقتصادي حقوق

محققه ساهره ځدران

اقتصاد د اسلامي نظام یو غوره رکن دی او بي له شکه د الهي احکامو او نبوي احادیثو پر بنسټ تنظیم او عبادي . اقتصاد د خداي«ج» د قوانینو په حدودوکي د فکر، طبیعت، ثروت او کار د استعمال له اړه د فرد او ټولني د اړتیا وو د لیري کولو، هوسایي او مفیدیت په غرض فعالیتونه وایي . یا په بل عبارت د الهي هدایت له مخي اسلامي اقتصاد د هغو قوانینو او اصولو څخه عبارت دي، چي د هغو د پکار اچولو او مراعات په صورت کي تولید او ثروت زیاتیږي. او د کار او تعاون له مخي د ټولني افرادو ته په عادلانه ډول رسیږي (اسلام، حقوق،اقتصاد ،تصوف،فلسفه- ٤۸۰مخ)

که څه هم خداي «ج» د آسمانو، ځمکي او مخلوقاتو پیدا کوونکي او روزي ورکوونکي دي، خو سره له دي موږ مؤمنانو ته په قرآن کریم کي د اقتصاد د تولید او د آسمانو او ځمکي نه در واګټیو د اوچتولو په خاطر داسي لارښوونه کوي : ترجمه : « لوي څښتن تاسي ته ځمکه په واك کي درکړي ده، د هغې له منابعو او حاصلاتو نه ګټه واخلي او خوراك ترینه وکړئ» او بل ځاي فرمایي : ترجمه : « پیدا کړي دي الله دا ټول آسمانونه او ځمکه او مافیها له پاره د منافعو ستاسي او له پاره ددي چي وازمویي تاسي ، چي کوم يو له تاسي ډېر ښه دي له جهته د عمل » (هود : ۷ آیت) پس موږ ټول مؤمنان ښځي او نارینه باید پوه شو چي دا دنیا زموږ له پاره ددین او دنیا په برخه کي د ازموینې یوه دوره ده او ښه مؤمن هغه دي چي په خپل ښه او نیك عمل سره خپل اخروي او دنیوي ژوند ښایسته کړي .

د الهي احکامو له مخي هر انسان، ښځه وي او کـه نارینه د خپل زیار او کار ګټه اوچتوي، لکه چي الله تعالي فرمایي : ترجمه : « او بله دا چي نشته هیڅ انسان لره، مګر (جزا د هغه شي) چي کړئ يې دئ یعني هر انسان چي هر څه په خپل زیار او کوښښ ګټي هغه دده دي » (النجم : ۳۹ آیت) او همدارنګه الله تعالي په مشخصه توګه د ښځي او نارینه د عمل او کار د محصول په باب فرمایي : ترجمه : « شته نارینه وو لره نصیب (برخه مقرره له ازله) په سبب د هغه عمل چي کړي يې دوي او شته ښځو لره نصیب (برخه ، مقرره له ازله) په سبب د هغه عمل چي کړي وي دوي » (النسا : ۳۲ آیت) څو الله تعالي مسلمانان (نارینه او سحي) په دي هم مامور کړي ، چي په نیکو چارو کي یو له بل سره مرسته او تعاون وکړي، لکه چي فرمایي : ترجمه : « او مرسته کوئ تاسي یو تر بله په نیك کار او پرهېز ګاري کي » (المائده : ۲ آیت)

د اسلام ستر پیغمبر حضرت محمد «ص» د الهي احکامو په رڼا کي خپل مسلمه امت ته د اقتصاد ، کار او کسب په باب داسي لارښوونه کوي : ترجمه : « له ستاسو هغه نه دي ښه ، چي د آخرت له پاره دنیا پریږدي او یا د دنیا له پاره آخرت خوشي کوي. بلکي له ستاسو څخه هغه بهتر دي چي هم ددي او هم د هغه څخه ګټه اخلي» او بل ځاي د حلال مال د طلب په برخه کي فرمایي : ترجمه « د حلال رزق پیدا کول د ټولو مسلمانانو فریضه ده» (اسلام، ۳۰٥-٥۰٤ مخونه) همدارنګه په خپله رسول اکرم «ص» د بعثت څخه دمخه سوداګروو او د سوداګري د ښو معاملو، صداقت، دیانت او ښو اخلاقو له امله، په «امین» مشهورو ، لکه چي حضرت خدیجي هم د همدغو دلیلونو په وجه حضرت محمد «ص» ته دا پیغام ولیږه، چي ته زما د تجارت مال شام ته یوسه، څومره پیسي چي ددي کار په بدل کي نورو ته ورکوم د هغو په دوه هومره به تا ته درکړم. محمد «ص» دغه خبره ومنله او ددي مال يې بصري ته یوړ. د بصري نه د بیرته راتللو نه څخه تقریباً دري میاشتي وروسته حضرت خدیجي ده ته د خپل واده پیغام ولیږه (سیرة النبي، لومړی ټوك ۱۳۲ مخ)

ځ لامه شبلي د صحیح بخاري د النکاح کتاب د ۷۸٦ مخ په حواله لیکي : اسما حضرت ابوبکر لور چي د حضرت عایشي میرمني خور کېده او حضرت زبیر ته واده شوي وه، کله چي مدیني ته راغله ، نو د خپل مېړه د اس له پاره به يې د ځنګل نه واښه راوړل او دوه میله لري له مدیني څخه به يې زبیر ته د کجورو د زړو پنډۍ راوړلي، او همدغه مؤلف زیاتوي، چي د حضرت عمر په عصر کي ځینو ښیبیانو چي حضرت عایشه هم په کي شامله وه د حاصل بدل کي ځمکه واخیسته (همغه اثر، دویم ټوك، ۳٤۱،۲۹۷مخونه) او حضرت عمر فاروق «رض» به بي بي شفا «رض» ته کله کله د بازار د نګراني (ښاروالي) وظایف هم وسپارل. او حضرت سمرا بنت نهیك اسدیه «رض» چي یوه صحابیه وه او تر ډېره عمره پوري ژوندي دي هم د بازار دوري کولي . خلکو ته به يې وعظ او نصیحت کاوه او جرم کوونکي به يې په درو وهل (اسلام ۲۰۰-۲۰۱ مخ)

د اسلام ستر پیغمبر «ص» د حجة الوداع په خطبه کي د ښځو د اقتصادي حقوقو په باره کي وفرمایل : « ښځي پر تاسو دا حق لري چي په نیکه طریقه هغوی ته خوراك او کالي (نفقه) ورکړئ» او حضرت ابي هریره «رض» د حضرت رسول الله «ص» څخه روایت کوي چي نه «ص» فرمایلي دي : « د کونډي ښځي او مسکین په احوال څیرونکي (یعني د هغو سره مرسته او د ستونزو لري کول) د خداي«ج» په لاره کي د جهاد په اندازه عرض لري، او یا د هغه شخص په ډول دی چي د شپي لمونځ کوي او د ورځي روژه نیسي» (همادغه اثر، ۲۱۱-۲۱۲ مخونه) دغه راز ښځو ته د اقتصاد په ډګر کي د اسلامي حقوقو له مخي دا حق ثابت دی چي نارینه د هغوی له خوښي او اجازي پرته د دوي پر منقولو او غیر منقولو شتمنیو باندي تیري نه شي کولاي . ښځو ته دا حق شته که هم څه شتمنه وي، مګر بیا هم کولاي شي چي د مېړه څخه نفقه وغواړي او مېړه مجبور دی چي حتي المقدور د هغې نفقه تیاره کړي. ښځي د شتمنۍ د ملکیت او دا نارینه د هغوی له پاره په سفر، حضر او ناجوړتیا کي حتي المقدور لازم تسهیلات برابر کړي ښځي کولاي شي د تجارت، زراعت، صنعت او په اقتصادي چارو کي د وکالت او مربوطه اداري چارو دندي اجرا او تر سره کړي. د حضرت امام اعظم «رح» د مذهب له مخي ښځه د تجارتي، اجتماعي او یا بین المللي امورو او مدني برخو کي قاضیه جوړیداي شي (همغه اثر، ۲۰۸-۲۱۰مخونه)

په اقتصادي ډګر کي د ښځي یو شمیر نور حقوق هم پر مېړه شته او هغه دا دي، که چیري مېړه د هغوي له رعایتولو سر غړونه وکړي، نو ښځه حق لري چي خپل مېړه اسلامي محکمي ته راکش کړي :

۱- هغه مېړه چي غلا يې کسب او عادت وګرځیدلی وي . ۲- هغه مېړه چي تل قمار وهي . ۳- هغه مېړه چي د شرعي نصاب په وجود قصداً زکات نه ورکوي. ٤- هغه مېړه چي د طاقت سره برابر د ښځي نفقه او د ژوند ضروریات نه تهیه کوي. ٥- هغه مېړه چي د ښځي په شخصي مال او ملکیت باندي د هغې بي اجازي په غاصبانه ډول تصرف کوي. ٦- هغه مېړه چي رشوت خوره، سودخوره، خاین او دروغجن وي او کورته حلاله نفقه نه تهیه کوي . ۷- ښځه کولاي شي چي د خپل نکاح په وخت کي د خپل مېړه ورسره منلي، تري وغواړي (اسلام ، ۱۹۳-۱۹۷ مخونه)

همدارنګه بالمقابل مؤمنه ښځه هم په دې مکلفه ده چي په خپل اقتصادي فعالیت کي د غلا، قمار، رشوت ظلم، خیانت، دروغو، سودخوري، اسراف او بخل څخه ځان وساتي، حلاله روزي او مال يې پیدا کړي او له ګټه څخه يې د سود په باب فرمایي : ترجمه : « حال د چي حلال کړي دي الله تجارت او حرام کړي يې دي سود» (البقره ۲۷٥آیت) او یا دا چي الله تعالي مومن نارینه او ښځي ته د اعتدال لارښوونه کوي او فرمایي : ترجمه : « او بندګان د رحمان هغه کسان دي، کله چي نفقه ورکوي مال لګوي، نو نه اسراف کوي او نه تنګي او بخل کوي او وي د دغه د دواړو په منځ کي دغه (اسرافاوتنګي)کي معتدل» (الفرقان:٦۷آیت)

ښځي د میراث په اقتصادي ډګر کي هم حقوق لري، لکه چي لوي خداي«ج» فرمایي : ترجمه : « نارینه د مور، پلار او خپلوانو په میراث کي حق لري او ښځي هم د مور، پلار او خپلوانو په میراث کي حق لري، خپله برخه اخلي لږ وي که ډېره » (النسا، ۷ آیت) په اسلامي شریعت کي د نر په شان ښځي ته اجازه ده چي تملیك او تملك ، بیع او شرا او داسي نور تصرفات وکړي او په ټولو عقودو، بیع او شرا او داسي نورو کي د نارینه وو په شان بالمباشرة او بالذات شرعاً اشتراك وکړي، خپل مال خرڅ کړي او د بل مال واخلي، د بل وکیله شي او یا بل وکیل کړي، د ځان ضامنه شي او یا بل څوك له خپلي خوا ضامن کړي، په اجاره يې ورکړي او په اجاره يې واخلي. ابو داود او نسایي د بي بي عایشي «رض» نه روایت کوي : « ښځي ته اجازه ده ، چي د مؤمنانو سره د اجاري عقد وکړي» او د ترمذي روایت دي، چي رسول اکرم «ص» فرمایلي : « ښځي حق لري ، چي د خلکو نه اجاره واخلي » او دغه راز رسول اکرم «ص» ښځو ته د غنیمت په مال کي هم خپل حق ورکاوه او د مستحقو يې ګڼلي (قرآن او سنت ، ٤۹-٥۷-٥۸ مخونه)

په اسلامي نظام کي بي سرپرسته مفلسي کونډي حق لري چي د دولت تر اقتصادي تأمین (سیپي) لاندي راشي، او د هغو اقتصادي ستونزي حل شي، او هم هغه مفلس او تش لاس ځوانان او پیغلي چي دواده مادي قدرت نه لري، حق لري چي له اسلامي نظام څخه د مرستي غوښتنه وکړي تر هغه چي دوي د کار او امکانات پیدا کوي (اسلام، ٢٤٨مخ)

نتیجه : د پورتنیو الهي احکامو، نبوي احادیثو او د اسلام د تاریخ له رڼا کي وبلای شو ، چي مؤمنه ښځه د اسلامي شریعت په حدودو او د هغو له څرګندو او قوانینو کي د اقتصادي چارو کي د مخامخ ګډون او تعاون کولو حق لري، او د ټولني د یوه فعالي غړي په حیث د خداي«ج» او د ملت په وړاندي دندي، مسوولیتونه او مکافات لري. بي له شکه مؤمني او پوهي افغاني میرمني خپل دغه اسلامي او افغاني حق چي لوي خداي«ج» ورکړي ، پېژني او د دغه حق پر بنسټ به خپل رسالت ادا کوي .

انشاء الله

انگیزه نشر

صفحه اختصاصي زن و جامعه

زن، مادر بشریت و عضو فعال تداوم زندگي انسان در روي زمین است . شكي نیست كه بدون زن بشر نمیتواند تداوم داشته باشد. دین مقدس اسلام به موجودیت زن ارج خاصي قایل بوده و خداوند «ج» طي ارشادات و احكام متواتر خود، مسلمانان را به تعظیم و تكریم زن همچو مرد مامور ساخته است. قران عظیم الشان بعد از امر به عبادت پروردگار بي نیاز پیروان خود را به احسان با والدین كه زن یكي از آن دو است مؤظف ساخته است پیغمبر اكرم «ص» مقام زن را تا حد قابل احترام مي پذیرد كه ضمن ارشادش جنت را تحت قدوم امهات كه ام یا مادر خود از جنس زن است مربوط مي پندارد.

امارت اسلامي افغانستان نیز به پیروي از احكام مقدس شریعت، زن را عضو و عنصر مهم سازنده، جامعة تلقي كرده، عزت و احترام اوشان را فریضه خود شمرده و دفاع از حقوق آنها را قسمیكه شریعت غراي محمدي براي شان وضع فرموده مسؤولیت خود مي پندارد.

تا حدودي كه شریعت مقدس تعیین فرموده ، ساختمان و خصوصیات جسمي زن اجازه میدهد و حفظ عزت و آبرویش تأمین میگردد زن افغاني در سایه امارت اسلامي فامیل و جامعه خود مصدر خدمت گردیده مي تواند. اداره هفته نامه شریعت به تاسي از هدایات نور افروز اسلام و ارج گذاري به مقـــام والاي زن ، غرض نشر مسایل مربوط به حقوق زن، مقام و ارزش زن در جامــــعه، فعالیت هاي اجتماعي زنان افغان در سایه نظام نجات بخش اسلام و بالاخره جواب به دسایس و تبلیغات سؤ دشمنـــان اسلام در رابطـــه به وضع زن در كشور ما و غــــیره مطالب آموزشي در مورد زن و خـــانواده، صفحه اختصاصي را به نشر میسپارد تا باشد از این رهگــــذر مصــــدر خدمت به همـــوطنان مسلمان خود گردد.

نظـــریات انتـــقادات ســـازنده ، مضامین و مقالات ارسالي شمـــا خوانندگـــان گرامي ما را در انجــــام این امر خطیر توانایي مزید خواهد بخشید. اداره

زن و جامعه

د تولني رڼا

ډاکټر بازمحمد ښادمن

ځومره ښه نعمت الله «ج» پیدا کړي دي، زه توان نلرم چي د داسي لوي نعمت شان په خپل ګوډ قلم ولیکلي شم . زما قلم عجیب قلم دي . کله کله مي هڅوي چي یو څه ولیکم که څه هم هغه زما تر توان لوړوي نن بیا قلم وهڅولم چي د یو لوړ نعمت په هکله څه ولیکم . تاسو ډیره سودا مه کوئ زه داسي نعمت یادوم چي په هغه کښي تاسو تر ما ډیر معلومات لري. ژر ده چي تاسي هم پوه شي چي زه د نسل د بقا مهم لاصل او د حوا، مریم او عایشي همجنسي د تري له عمده نعمتونو څخه بهتر نعمت (ښځي) یادوم. ښځي د انساني ژوندانه د بهیر مهمي کړئ دي .

دا ښځي دي چي په لومړي ځل کوچنیانو ته په غیره کي ښوونه او روزنه ورکوي او نوي نسل نیکي لاري ته راغواړي . لیکوالان هم عجیب خلك دي هر څه ته یي پام کیږي یو لیکوال لیکي « ښځه د ټولني رڼا ده كه رڼا نه وي ټولنه به په هماغه ورځ تیاره وي » زه په همدي مطمئن یم چي مور هر وخت دي رڼا ته د قدر په سترګه کتلي دي مور ته اسلام هم درس راکړي دي چي د ښځي قدر او درناوي په تاسو لازم دي او مور چي عقید وي مسلمانان یو الحمد لله تل مو د ښځو قدر کړي ده او بیایي هم قدر کوو .

رابعه «بلخي»

محمد عبدالعزیز «مهجور»

هزار سال قبل یعني در سده، چهارم امیـري در نو بهار بلخ بنام كعب اقتدار امور را به كف داشت. كعب مرد عادل و با اداره بود و در روزگـارش در نوبهــار بلخ ۱۲ هزار مسجد ۱٤ هزار حافظ قرآن مجید، پنجـاه ، هزار عـالم، عـابد، زاهد، صـوفي، قلندر و مـشـایخ ، ۲۵۰ خانقاه و ٤۳۰ مدرسه وجود داشت . چار بازار بلخ مـركز تجارتي عظیم بود كه بر علاوه از حریر - ابریشم و مشك نافه آهوي تاتار و چین بفروش میرسید.

كعب دو فرزند داشت كه یكي حـارث نام داشت و دیگري رابعـه ، رابعه مورد الطاف بیشتر پدر قرار داشت و در تولد او شاعران انجمن ها ســاختند شعر ها و سـرد هاي خویشرا در حضور امیر عرضه نموده مورد انعام قرار گرفتند. رابعه در منتهاي ناز و تنعم بزرگ مي شد و در سن ده سالگي مادر خویشرا از دست داد ، تربیت و مراقبتش به دایه بنام رعنا تعلق گرفت كه مهربان تر از مادر بود.

مه با گذشت زمان بر خود مي بالید و بزرگتر مي شد. سحرگاهان به مساجد میرفت و از مواعظ امامان این مستفید مي گردید و در منزل كه قصر مجللي داشت با مطالعه و فراگیري علوم متداول مي پرداخت . در مجالس مشاعره شاعران و ادیبان كه در آن امیـر براه انداختـه مي شد اشتراك مي ورزید و بهره كافي مي گرفت .

زمان پیهم مي گذشت و رابعه با دانش و خِرد بزرگ مي شد و مورد توجه و التفات بیشتر پدر قرار مي گرفت این امر سبب شد تا حسادت برادرش به نسبت وي شدید تر گردد.

كـعب سـالخـورده، بر بسـتـر مریضي افتاد. و روز تا روز ناتوانتر مي شـد امـا سـوداي جگر گـوشـه، عزیزش رابعه ویرا بیشتـر مي آزارد اما چه میتوان كرد بقول حضرت بیدل:

به قضا سرفگنده ایم همه
چاره نیست بنده ایم همه

حـارث توسط طـبـیب به كـعب پدرش زهر نوشانید تا زندگیش كوتاه تر گردد و با مرگ كعب انتقام محبت هاي پدرش را از رابعه نیز بگیرد.

حارث همواره مخالفت مي ورزید كه شاعري كار زن و دختر نیست و تنگي به خانواده امیر است و ازینرو با رابعه دشمني داشت.

وقتي حارث بر جاي پدر نشست شبي بزم بر پا نمود و در آن محفل غـلامش بكتـاش به خـدمـتـگذاري مصـروف بود. در آنشب بود كه نظر رابعه از پرده بر بكتاش مي افتد و دل از كف میدهد. این واقعه اشعار رابعه را پر شكوه تر مي سـازد و كار شیدایي اش بالا میرود. چون عشق مانند مشك بو دارد نمي شود كه آنرا پنهان ساخت و بزودي در قصـر حارث و بیرون از آن بر سر زبانها افتاد .

حارث در سدد مي بر آید تا ابتدا غـلام را از بین ببـرد و او را بمـقـابله دشـمن قـوي پنجـه خـویش با لشـكري میـفرسـتـد كه در آن بكتـاش زخم بر میدارد و رابعه با دلیري و چابكي كه داشت و بر چهره نقاب كرده بود آنرا از محركه نجات میدهد كه این خود آتش خشم حارث را فروزانتر ساخت .

امیر نصر ساماني مجلس طربي در سمرقند بر پا كرده و در آن رودكي شاعر نابینا كه بار بار با رابعه مشاعره و ملاقات داشت در محفل را با شعر و سرود خود گرم مي ساخت حارث نیز بدعوت امیر نصر در آن مجلس حضور داشت ، رودكي در خلال مجلس اشعار رابعـه را نیـز قـرائت كـرد و گـفت این شاعره با غلام برادرش عشقبازي دارد و چنین اشعار عاشقانه را سروده است . حارث خیلي ها خجل گردید و وقتي مجلس به پایان رسید. بر گشت و امر كرد تا بكتاش را به سیاه چاه اندازند و رابعه را در حمام رگ زنند .

امر حارث عملي شد. رعنا دایه، رابعه جریان را به بكتاش رسانید و او را از سیاه چاه نجات داد تا در رهایي رابعه اقدام نماید و چون بكتاش مرد جنگي بود حارث را به قتل رسانید و روي به حمام آورد و با جسد بي روح رابعه مقابل شد . حمام از خون رابعه رنگین و بر درو دیوار آن اشعــار عاشقانه اش نوشته شده بود. بكتاش با نظاره این حالت بر زندگي خویش نیز خاتمه داد .

مزار رابعه امروز در نوبهار بلخ در همان حمام قرار دارد و زیارتگاه عشاق است . رابعه اولین زن است كه شعر دري گفته است و در انواع نظم دسترسي كامل داشته است شمس قیس رازي در كتاب المعجم في معایر اشعار العجم براي اثبات توانایي ادبي رابعـه در توضیح بر مسدس علاوه میكند كه رابعه بحري را در بحور دري افزوده است .

ترك از دوم در آمد خندانك
آن خوبروي چابك مهمانك
مفعول فاعلاتن مفعولن
مفعول فاعلاتن مفعولن

در مورد عشق رابعـه سخنان بسیاري گفته شده از آن جمله شیخ عطار نیـشـــاپوري در الهي نامـه سرگذشت خونین رابعـه را به نظم در آورده و نور الدین عبدالرحمن جامي در نفحات الانس چنین ذكـر كرده است: شیخ ابو سعید ابوالخیر قدس سره گفته است كه دختر كعب عاشق بود بر غلامي اما پیران همه اتفاق كردند كه این سخن كه او میگوید نه آن سخن باشد كه بر مخلوق توان گفت . او را جاي دیگر كار افتاده بود- و از این رویداد بر مي آید كـه عشق رابعه عشق مجازي نبوده و عشق حقیقي میباشد.

ز بس گل كه در باغ ماوئ گرفت
چمن رنگ ارژنگ مانا گرفت
مگر چشم مجنون بابر اندر است
كه گل رنگ رخسار لیلي گرفت

زنان برگزیده جهان اسلام
یاد كرد كوتاهي
از برخي زنان صدر اسلام

پوهیالی لیلما «یما»

در شماره هاي قبلي ما كوشش كردیم تا دو باره، شخصیتهاي برجسته، زنان صدر اسلام نسبتاً با تفصیل به تناسب برازنده گي ابعاد مختلف حیات آنها مطالبي را به نگارش آوریم. اینك در ادامه، آن اجمالاً به یكي از جنبه هاي برجسته، زنده گي تعداد دیگري از زنان صدر اسلام اشاراتي میكنم تا یك مجموعه، مختصر از زنده گي آنان براي خواننده گان تهیه كرده باشیم .

ام سلیم «رض» و صراحت لهجه و تاثیر كلام وی :

یكي از زنان با تقوا و با دیانت صدر اسلام حضرت ام سلیم «رض» است كه اصل نام وي رمیصا بوده و دختر ملحان بن خالد بود. ولادت وي سي سـال قبل از هجرت در مدینه، منوره اتفاق افتاده است .

حضرت ام سلیم «رض» قبل از آنكه پیامبر بزرگوار اسلام به مدینه تشریف بیاورد اسلام را قبول نموده بود و پسر خویش را كه طفل شیر خوار بود كلمه توحید یاد داده بود. با وجودي كه از طرف شوهرش مالك كه مسلمان نبود پیوسته مورد غضب واقع میشد، اما وي دین پاك اسلام را رها نكرد .

از خود گذري این زن با عفت در تربیه پسرش انس بعد از فوت شوهرش قابل یاد كرد است. وي عهد بست تا انس «رض» بزرگ نشـود ، شوهر دوم نگیرد چه او میترسید كه مبادا بعد از گرفتن شوهر دوم در تربیت پسرش خللي وارد شود.

زماني كه حضرت پیامبر اسلام به مدینه تشریف آورد ، ام سلیم نزد پیامبر «ص» رفته انس را كه بالاتر از جان خـویش دوست میـداشت به خدمت آنحضرت گماشت . نكته، برجسته، دیگر در شخصیت ام سلیم صراحت لهجه و تاثیر كلام وي بود. چنانكه وقتي ابو طلحه، بت پرست از وي خواستگاري كرد ، ام سلیم جواب رد داد و گـــفت : تو بت پرست هستي و من یك مومنه مسلمان. این ازدواج صورت گرفته نمیتواند ابو طلحه از اثر این گفتار ام سلیم، بت خویش را در آتش انداخت و نزد پیامبر «ص» آمده ایمان آورد. و حضرت پیامبر اسلام این وعظ ام سلیم را ستود و از آن خورسند شد.

ام سلیم در اكثر غزوات اشتراك نموده وظیفه آب دادن به تشنه گان و بستن زخم هاي مجروحین را بر عهده داشت .

حضرت خنسا«رض» بهترین شاعره عربزبان:

نامش تماضر بود به علت آنكه خیلي چست و چالاك بود و حسن فراوان داشت خنسا میخواندنش . چهل و دو سال قبل از هجرت در مكه به دنیا آمده بود و از قبیله، بني سلیم بود. وي نیز در غزوات اشتراك نموده است. اما نقش فرهنگي وي در صدر اسلام چشمگیر است . چه او از جمله شاعران بزرگ به شمار میرود. جریر شاعر شهیر عرب در مقام والاي شـاعـري این زن مـسلمـان میگوید : اگر اشعار خنسا نمیبود ادعا میكردم كه در عرب من بهترین شاعر هستم .

حضرت خنسا همیشه در محافل ادبي و سیاسي شخصیتهاي برجسته عرب اشتراك میكرد و به جر و بحث میپرداخت . به همین ترتیب حضرت خنسا جهت فراگیري تعلیمات دیني به حضور حضرت عایشه، صدیقه مي آمد و كسب فیض میكرد .

جالب ترین اشـعـار حضـرت خنسا ، اشعار مرثیه وي میباشد كه پس از فوت دو برادرش و به شهادت رسـیـدن چهـار پسـرش در جنگ قادسیه سروده است . حضرت خنسا در همین واقعات جانسوز صبر نموده و درد و اندوه خـویش را به وسیله شعر انعكاس داده است .

حضرت خنسا در سنه چهل و یكم هجري به عمر هشتاد و چهار ساله گي وفات یافت .

حضرت اسما«رض» نمونه یي از فصاحت و بلاغت :

یكي از زنان دیگر صدر اسلام، حضـرت اسـما بنت یزید انصـاري میباشد. كه كنیتش ام سلمه بوده و از زمره، صحابیات به شمار میرود. حضرت اسماء«رض» را همه به عنوان یك زن عاقل و در عین حال فصیح میشناسند. یكي از نطقهاي مشهور وي همان است كه به حضور حضرت پیامبر اسلام به نماینده گي از زنان مكه ایراد نموده بود. و آن چنان بود كه حضرت اسما نزد پیامبر «ص» آمده گفت : ما زنان بر تو و خداي تو ایمان آوریم اما چون شما و دیگر مردان، ما زنان نسبت مصروفیتهایي چون : خانداري، تربیـه اطفـال، حـفـاظت مـال و دارایي شـوهر، نمیتوانیم همیشه در غزوات اشتراك نمـائیم، نمـاز جنازه بخـوانیم و یا پیوسته به عیادت مریضان برویم و به كرات حج نمائیم و همه، این كار ها را بخاطر استحكام خانواده گي خویش انجام میدهیم، پس چرا در ثواب و اجر اعمال با شما شریك نباشیم، حضرت پیامبر اسلام حسن افاده، وي را ستود و به او گفت كه برو به دیگر خواتین بگو كـه اگـر طایفه، زنان با شوهران خود خوب گـذران كنند و رضـا و خـوشنودي شوهر را حاصل نمایند به همه، آن فضایل برابر هستند.

حضرت رباب، وفادار ترین همسر :

زنان بیشماري وجود دارند كه شوهران خویش را دوست میدارند اما كمتـر زناني را سراغ داریم كه چون حضرت رباب بنت امرالقیس بن عدي كلبي جواني خویش را فدا نموده باشد.

حضرت رباب در عقد نكاح امام حسین «رض» نواسه، سرور كاینات در آمـده بود آن حـضـرت «رض» حضرت رباب و دختر خویش حضرت سكینه را نسبت خصایل برجسته، شـان فـوق العـاده دوست داشت. به حدي كه میگفت: خانه یي را دوست دارم كه در آن سكینه و رباب باشد.

حضرت رباب سانحه، جانسوز كربلا و به شهادت رسیدن حضـ[illegible] حسـینؓ را به چشم [illegible] و در سوگ وي مرثیه، شور انگیز سرود و او را یار یتیمان ، محتاجان و مساكین و كوه متین و استوار براي خویش توصیف نمود و در آن مرثیه عهد كرده گفت : والله تا وقتي كه زیر خاك گردم به جز شما و بعد از شما عروس كس نخواهم گشت .

حـضـرت رباب به این عـهـد خویش وفا نمود و بقیه، عمر خود را بعد از شهادت حضرت حسین در عبادت خدا و ماتم شوهر و رنج و الم به سر برد . گفتـه میشود كه مدت شش ماه در كربلا مجاور قبر شوهر خـویش گـشت و بعـد از عـودت به مدینه به همان عزلت و تعزیت فوت شد.

حضرت سكینه نمونه، نشاط و سرور زنده گي :

با وجودي كه حضـرت سكینه چون مـادر بزرگـوارش حـضـرت رباب «رض» شاهد واقـعـه، المناك كـربلا بود و شـهـادت پدر و دیگر دوسـتـان و وابسـتـه گـان و سـایر مسلمانان را در این واقعه به چشم سر مشاهده كرده بود: اما بر خلاف مادر تسلیم غم نشد، بلكه با غم و درد پنجه نرم كـرد و با تبـارز دادن نشـاط و سـرور از چهـره، خـویش مقاومت خود را در برابر غم و اندوه نشان داد. و با وجودي كه غم را تا عمق وجود خویش احساس میكرد، اما در طبیعت خود افسرده گي را جایگزین نمیـساخت و شادي و نشاط حیات را فراموش نمیكرد.

حضرت سكینه در لطفیه گویي و بذله سنجي ذوق سلیم داشت همچنان در شعر و سخنوري پایه، بلندي را دارا بود. ادیبان صاحب اصل و نسب عرب همیـشـه به حضورش آمده و به گفتار حكمت آمیز وي گوش میدادند و حتي شعرا براي فیصله سخن نزد او مراجعه میكردند، حضرت سكینه علاوه بر آنكه در شعـر و ادب صـاحب رأي بود؛ در حل قضایاي علمي نیز مقام بلند داشت و قضـیه هاي علمي را با روش معتدلانه حل مینمود و از هیچ گونه كار و بار معقول و معاشرت مشروع دلزده نمیشد بلكه با همت عالي و متانت بلند با مردم رفتار مینمود.

امامه بهترین نصیحتگر :

امامه زوجه، عوف شیباني از اشراف قبیله، ربیعه بود كه در صدر اسلام میزیست. آنچه شخصیت وي را برجسته میسازد همانا نصایح سودمندي وي میباشد كه اگر دوشیزه گاني كه تازه زنده گي مشترك را آغاز میكنند به آن گوش دهند زنده گي سعادتمندي را نصیب خواهند شد.

مشهور ترین نصایح وي همانا نصایح ده گانه یست كه براي دختر خویش «ناس» ارشاد فروده است و آن از این قرار است :

۱- زنان باید قناعت را شعار خود بسازند و خوراك و پوشاكي كه شوهر شان برایشان تهیه كرده است با دل و جان بپذیرند و با این قناعت خویش راحتي را بدست آورند.

۲- زنان باید پیوسته در تلاش آن باشند تا رضاي شوهر خویش را حاصل كنند و از طریق كسب رضاي وي زنده گي را براي خـویش زیبـا و دلپسند سازند.

۳-٤- زنان باید تا حد توان به نظافت و پاكـیـزه گي خـانه و ملحقات آن بكوشند و اشیاي كثیف و چركـیـن و بد بو را در جـایي نگذارند كه بوي آن به شوهر برسد و موجب كراهت وي شود .

٥-٦- زن خوب زني است كه وقت طعام و خواب شوهر را دقیق در نظر داشتـه باشـد و نگذارد كـه گـرسنگي باعث غـضب شـوهر و بیخوابي باعث اندوه وي گردد.

۷-۸- زن مسلمان زني است كه مال و دارایي شوهر را محافظت نموده و با دوستان و وابسته گان شوهر به نیكي رفتار مینماید.

۹- زن مسلمان راز دار است و هیچگاهي اسرار شوهر را به كس فاش نمیكند چه او میداند كه فاش ساختن راز شوهر باعث آزرده گي [illegible] شده و محل بي بیوفایي و نا امانت داري زن میشود.

۱۰- زن همیشه شریك شادي و اندوه شوهر میباشد در شادي وي شاد میگردد و در حزنش اندوهناك و روید بر عكس انجام نمیدهد.

* * *

از مطالعه جنبه هاي گوناگون حیـات زنان صـدر اسلام آشكار میگردد كه آنها دوشادوش مردان در همه عرصه ها اعم از سیاسي، نظامي، اقتصادي، اجتماعي، حقـوقي ، مدني، تربیتي و ... به صورت انساني به فعالیت پرداخته و از خود شاهكارهاي بجامانده اند.

باید گفت كـه اگر مـا زنده گي این بانوان را با حیات ماقبل و ما بعد صدر اسلام مقایسه كنیم اصلاً نمیتواند قابل مقایسه باشد، زیرا جاهلیت ماقبل اسلام و جاهلیتي كه در دوره هاي بعدي به سبب نفوذ و استیلاي سیستم فیودالي و ارباب رعیتي در جوامع اسلامي رونما گردید نهضتي را كه در پرتو نفوذ اسلام و كوششهاي پیامبر بزرگوار اسلام و پیروان وي در حیات زنان با توجه بانوان بزرگي چون حضرات بي بي خدیجه، بي بي عایشه، بي بي فاطمه و دیگران براي تأمین حقوق زنان فراهم آمده بود و توانسته بود حیات اجتماعي را در مسیر فطري آن جریان بدهد، مانع گردیده و از راه اصلي آن انحراف داده و آهسته آهسته در پهلوي دیگر انحرافات حقوق زنان را نیز تلف نموده و آزادي هایي كه اسلام برایشان قایل است از آنها گرفتند، و آنها را همانند عهد جاهلیت گوشه نشین نمودند و از زنده گي اجتماعي كه خواست اسلام است ایشان را با اكراه و اجبار دور كردند.

عکس العمل عدهٔ از زنان مسلمان و دانشمند افغانی در قبال حرکات ...

مسبوقیت و آگاهي از موضوع خواست تا واکنش زنان مسلمان افغان را قبل از آغاز این کمپاین ؛ همچنان تشخیص هویت اصلي خانم بینینو (دایهٔ مهربانتر از مادر !!؟) و هدف اصلي از راه اندازي این کمپاین که در حقیقت خود توهین و تحقیر به شعایر اسلامي و عنعنوي جامعه ما چیزي دیگر نمیباشد؛ در پرتو نظریات متعالي برخي از زنان هوشمند افغان تبارز دهد .

ما درین شماره نظریات تن چند از زنان صاحب نظر را قسم الگو در زمینه جمع آوري کرده که شما عزیزان را به خوانش آن فرا میخوانیم :

محترمه دوکتورس حمیده «رسولي» موظف در سرویس نسایي و ولادي شفاخانه رابعه بلخي:

خوشبختانه امروز زنان افغان از حقوق کامل ملي و اسلامي مستفید بوده و محیط و زمینهٔ کار براي هر زن افغان در حاکمیت نظام طلبا و شریعت اسلامي مساعد است. ما هرگز نمیتوانیم آن آزادي هاي را که غربي ها براي زنان غرب داده اند تحمل کنیم: در حقیقت هدف اصلي از بوجود آمدن نظام تحریك اسلامي طالبان در کشور تأمین و اعادهٔ حقوق زنان جامعه ما تحت چوکات شریعت غراي محمدي «ص» بوده است. امروز ما زنان مسلمان افغان افتخار میکنیم که تحت بیرق نظام واقعاً اسلامي خدمت میکنیم. در اخیر ما بطور کل حمایت و جانبداري خویش را از سیاست تحریك اسلامي طالبان در قبال حقوق و حجاب زنان افغان اعلان داشته و از کمپاین خانم بنینو وسیعاً مخالفت میکنیم.

نعیمه جمیل «احمد زي» لیسانسه پوهنځي شرعیات پوهنتون کابل:

ما از طریق رسانه هاي خبري جهان شنیدیم که بنینو بر ضد تطبیق حجاب اسلامي در افغانستان تبلیغات وسیعي را به راه انداخته و حجاب اسلامي را به مشابه خلاف ورزي از قوانین بشري و حقوق زن پنداشته است . من برایش میگویم که مطابق قوانین بین المللي و اساسات ملل متحد قوانین مروجه و هر ملت در تعین سیستم حکومتي و قوانین اقتصادي اجتماعي و کتلوري خود خود مختار بوده و این مسئله جزئي از مسایل داخلي یك مملکت شمرده شده و دیگران حق مداخله و تبلیغ هاي گوناگون را بر ضد آن ندارد. به نظر ما و مردم مسلمان ما حجاب شرعي حافظ عزت و ناموس آن مسلمان از تجاوزات گوناگون پیروان شیطان مي باشد.

داشتن عزت، عصمت و عفت حق هر زن است و گفتیم که حجاب حافظ این حقوق است، پس بنینو که بر ضد حجاب تبلیغ مي کند دشمن حقوق زنان افغان است او میخواهد با دور کردن حجاب عزت و عفت ما را پا مال کند. اصلاً بنینو و جامعه فاسد غربي وي غاصب حقوق زنان است، نه حجاب اسلامي؛ اگر چنین نیست بنینو مهرباني کرده و از ملیون ها زني که از سبب بي حجابي و فساد اخلاقي به ایدز مبتلا شده نظر خواهي کند .

محترم ناهید «ممتاز» دوکتورس موظف در سرویس داخله شفاخانه رابعه بلخي ضمن اینکه کمپاین خانم بنینو را محکوم نمود اضافه داشت : من به صفت یك زن مسلمان افغان به خانم بنینو صرف همینقدر میگویم که ما زنان افغان توانمندي این را داریم که در تعین سرنوشت خویش خود مصمم باشیم .

محترمه دوکتورس ماري «پنجشیري» موظف در سرویس جراحي شفاخانه رابعه بلخي :

یگانه دینیکه براي زن ارزش و حقوق متعالي قایل شده است، دین مقدس اسلام میباشد؛ بناً ما زنان مسلمان افغان هیچگاه به خانم بینینو این حق را نمیدهیم که حجاب اسلامي زنان افغان را مورد توهین قرار دهد. اگر خانم بینینو واقعاً میخواهد که از حقوق زن در افغانستان دفاع نماید و به زنان افغان ارمغاني داشته باشد؛ بهتر است تا به شفاخانه رابعه بلخي که مرجع مهم طبي براي زنان در سطح شهر کابل میباشد، کمك هاي بشري و انساني جامعه اروپائي را مبذول دارد .

محترمه دوکتورس اسحق زائي موظف در سرویس اطفال شفاخانه میوند :

به عقیده، من اگر خانم بنینو واقعاً خود را وکیل مدافعه حقوق زنان افغانستان میخواند، باید به جاي این کمپاین بي بنیاد، یك کمپاین علمي، صحي و فرهنگي را براي زنان افغانستان راه اندازي نماید تا به جهانیان و ما زنان افغان معلوم شود که خانم بنینو واقعاًسمبول انسانیت نه سمبول شیطاني!!؟

محترمه دوکتورس گل غوتي متخصص امراض اطفال موظف در شفاخانه میوند :

از آنجائیکه به همگان ظاهر است، حریم حیثیت زنان افغان در رژیم هاي فاسد گذشته پیوسته مورد چپاول و تجاوز قرار گرفته بود؛ امروز خوشبختانه با ایجاد یك نظام واقعاً اسلامي توسط تحریك اسلامي طالبان در کشور، زنان افغان تحت لواء اسلام خود را بیشتر از هر وقت دیگر صاحب امتیاز و حق مي یابد؛ لذا ما به خانم بنینو این نکته را قابل تذکر و یاد آوري میدانیم که زنان افغان سرنوشت خود را هیچگاه به اختیار دیگران قرار نداده و امروز هم توانمندي و حق این را در خود دارند که ارزش خود را در اجتماع ، خود تعین کنند .

محترمه دوکتورس جنرال سهیلا رئیسه بخش اناثیه شفاخانه اکادمي علوم طبي افغانستان :

امروز زنان مسلمان افغان افتخار دارند که تحت نظام تحریك اسلامي طالبان که در رأس آن عالیقدر امیر المؤمنین قرار دارد، بسر میبرند. امروز ما زنان ایمان داریم و متیقن بر این هستیم که طالبان آن چنانکه از آزادي، استقلال، تمامیت ارضي، نوامیس و حقوق ملت افغانستان پشتیباني و دفاع میکنند، آنها از حقوق اسلامي و ملي زنان افغان نیز با قاطعیت حمایت و جانبداري میکنند؛ اما همین جنگ است که مانع آن شده تا زنان نتوانند نقش خویش را در عرصه هاي مختلف جامعه اعم از اجتماعي، فرهنگي و اقتصادي به شکل عمده بازي کنند گذشته از این امروز تمامي حقوق و ارزش هاي مادي و معنوي زنان جامعه در چوکات شریعت اسلامي تأمین بوده و زنان افغان در آسایش و آرامش کلي ذهني بسر میبرند.

حقوق و ارزشمندي که دین مقدس اسلام براي زن قایل شده است، هیچ دین و آئین دیگر این ارزشمندي را در قسمت زن در خود ندارد ، این جنگ است که موقع را براي بلند کردن صدا هاي زنان خارجي همچو خانم اما بنینو مساعد ساخته است. من به نمایندگي از زنان هوشمند و روشنفکر جامعه، این کمپاین بنینو را در سطح جامعه بین المللي تقبیح و تکوهش نموده و خانم اما بنینو را با این اقدامش یك متجاوز صریح و عیني در قسمت حقوق زنان جامعه افغان میدانم .

آرزوي من از خواهران افغاني و زنان جهان این میباشد که آنها طرف هاي درگیر جنگ و ملل متحد را قانع به این بسازند تا دست از جنگ و خونریزي کشیده. تا باشد ما زنان بتوانیم از حقوق حقه، اسلامي و ملي خویش مستفید شده و نقش خویش را در سازندگي جامعهباتماماارزشمندي ان ایفاکنیم.

دوکتورس صالحه «نبي زاده» رئیسه شفاخانه رابعه بلخي:

من افسوس میکنم به حال آن شیطان پیر (امابنینو) که گل هاي پژمرده شقاوت و هم جنس بازي غربي را براي زنان با حیا و عفیف افغان بدست گرفته است تا اشك تمساح بریزاند. این گل بد بو، بوي بد حشیش و ماري جوانایي را میدهد که اما بینینو در کلپ هاي شبانه براي زنان اروپایي توزیع مینماید. این گل رنگ از خود رفته سقط هاي جناحي را میدهد که جامعه غیر اخلاقي دختران هرزه، اروپایي را تشویق به آن میکند. ساقه این گل ، پر خار ترین ساقه، از گلهاست که تماس با آن بسیار مضر است؛ لذا من به اما بنینو میگویم که گپ هاي مرا با حوصله مندي گوش بدهد :

شما مهمان نا خوانده چندي قبل با داخل شدن به شفاخانه رابعله بلخي در کابل با یك گله حیواني انسان نما ۴۰ نفري، منحیث یك عروسك شبکه تلویزیوني C.N.N عمل نمودید نه منحیث یك کمشنر اقتصادي جامعه اروپا . شما و گله، قاچاقبر تان وحشیانه عمل داشتید. دیگر لطفاً آن اطوار و کردار بربري و وحشت انگیزتان را به امارت و تحریك اسلامي طالبان نسبت ندهید! گل که شما بدست دارید گل پژمرده ایست که از بي حیایي شما شرمسار است. هیچ زن افغان آن گل زننده را نخواهد پذیرفت. زنان افغان گل هاي قشنگ عفاف را بدست دارند که توسط عقاید مقدس اسلامي و کلتوري شان آبیاري گردیده و ضرورتي به وارد کردن گل هاي مریض از جامعه مریض شما ندارند.

مهربان

رئیس موزیم هاي ملي با معاون سفیر سفارت امریکا در اسلام ملاقات نمود

رئیس موزیم ها در این اواخر در مقر وزارت اطلاعات و کلتور با اقاي الن اینت من معاون سفیر سفارت ایالات متحده امریکا در اسلام آباد و هیأت همراهانش ملاقات بعمل آورد.

آژانس اطلاعاتي باختر گزارش میدهد درین ملاقات محترم مولوي عبدالسلام عظیمي رئیس موزیم ها در حالیکه معاون موزیم ها نیز حاضر بود در رابطه به ارزش هاي آثار تاریخي موزیم هاي افغانستان معلومات ارائه نموده و پیرامون معضلات و حفاظت آبدات تاریخي کشور تبادل نظر نمودند .

همچنان طي این ملاقات توجه جانب مقابل در امر همکاري حفاظت میراث هاي فرهنگي و تاریخي کشور نیز جلب گردید.

په ۱۹۹۱م کال ...

دگر د واو ځيگر په ناروغیو هم اخته شویدي د امریکا د دفاع وزارت پینتاگون له حقایقو نه د خبریدلو سره سره ددي خبر له تفصیل نه ډډه کوي.

په ۱۹۹۱ کال کي په خلیج کي د متحدینو د جنگیدونکو فوځیانو د تنظیمولخوا په یو خپاره شوي ریوټ کي ویل شویدي چي په دي جګړه کي هر ډول اتومي وسلي استعمال شویدي خو جنګیالي په دي هکله ناخبره پریښودل شویدي چي له همدي امله اوس تخلور سوه زره فوځیان په ډول ډول ناروغیو اخته دي .

په دي ریوټ کي ویل شویدي چي د اغیزمن شویو فوځیانو ډیره برخه د جنگ په دوران کي متاثره شوید.ي او پاتي برخه یي له جګړي وروسته په دي ناروغیو اخته شویدي .

ریوټ لیکي چي له جګړي وروسته په هواکي د اتومي وسلو دود او ناولتیا او په مځکه د استعمال شویو وسلو خولو نه دي فوځیانو لیدل خو په دې خبر نه وو چي د دوي د ناروغي سبب همدا وسلي دي .

امریکایي مقامات، ددي حقیقت د پټولو کوښښ کوي او حتي ځيني په همدي ناروغیو اخته فوځیان چي ځرګندي نښي یي هم په کي شکاري کله چي له دوي سره مخ شي نو بیا یي هم په سترگو کي خاوري شیندي اوپه ډول ډول بهانو یي تیر باسي. دا فوځیان د گردو، ځیگر او سرطان په خیر په خطر ناکو ناروغیو اخته شویدي .

پخوانیو فوځي تنظیمونو د پنتاگون او د فوځ سرلښکرو یدي کارسختااحتیاج کړیدي.

حکم شوراي سرپرست ...

تمامي وزارتخانه ها هدایت عالقدر امیر المؤمنین را درباره جداً مد نظر قرار دهند. ریاست عمومي کار و امور اجتماعي پروگرام عملي تطبیقي جدید را مطابق به سال هجري قمري عیار سازد.

الحاج ملا محمد رباني

رئیس شوراي سرپرست

سفیر امارت اسلامي افغانستان ...

محترم دلاور مراتب تأثرات عمیق رهبران امارت اسلامي افغانستان را بخاطر وقوع سیلاب هاي اخیر در بلوچستان و تلفات و خسارات ناشي از آن به رئیس جمهور جمهوري اسلامي پاکستان ابراز داشت .

در مقابل محترم رئیس جمهور پاکستان روي برادري، صلح، امنیت و استحکام نظام اسلامي تاکید بعمل آورد .

د کمبوډیا بخواني صدر اعظم...

راناريد او هم د کمبوډيا ګواکښ شخص سن هن ملي دي. او ددغه پیشنهاد له مخي شهزاده راناريد په ازادانه توګه دغه هیواد ته ستنیږي او په هغو عمومي انتخاباتو کي ګډون کوي چي د راتلونکي کال په دوبي کي تر سره کیږي .

د عقیدتي او بهرنیو ژبو ...

تصدیق لیکونو د ویشلو په ترڅ کي د علم او پوهي د زده کړي په کار کي مخلصینو ته د لوي خداي «ج» له دربار نه د لازیاتو بریالیتوبونو هیله وکړه .

د کندف انصار په کمپ کي ...

اکوړه خټك مدرسي مدرس محترم شیخ الحدیث مولانا شیر علي شاه او محترم مولانا عنایت الله برهاني د افغانستان د اسلامي امارت د سوله ایزو پالیسیو او کړو وړو او د محمدي غرا شریعت د نافذولو په هکله خبري وکړي او د اسلامي شریعت نافذیدو او د مفسداتو او منکراتو د مخنیوي په لاره کي یي د افغانستان د اسلامي امارت د اقداماتو قدرداني وکړه .

وروسته محترم ملك اسمعیل ، محترم حاجي عبدالحکیم، محترم حاجي سیدالرحمن ، محترم حاجي عابد خان او محترم حاجي سحرگل د نورو په نمایندګي د موضوع په ارتباط خبري وکړي او د افغانستان د اسلامي امارت له سیاستونو او ارزښتونو ننحه یي خپل پلوي او ملاتړ څرګند کړ او د افغانستان د اسلامي امارت سره یي په سر او مال د ودریدني ژمني وکړلي .

په امریکاکي د نیستمني ...

د پنځمي د خبر له مخي په امریکا کي د بیاپانو او نیستمنو تر منځ توپیر ورځ په ورځ ډیریږي په دي اړه په یوه خپاره شوي تحقیق کي راغلي دي چي هلته د لوړي طبقي له یو په سلو کي خلکو سره د ټیټي طبقي د ۹۵ په سلو کي نوي افرادو له مجموعي مال او دولت نه ډیر مال او دولت موجود دي او دا هم ویل شویدي چي ددي محرومیت له پلوه غټ غښي د توریوستکي طبقي په وګړو راپربوتي دي .

ددي تحقیق له مخي د توریوستکو له هر دریو نه یو تن یا په زندان کي اسیر دي او یا په ضمانت ګرځي همدا راز د بیوزني په ډګر کي هم دتوریوستکو امریکایانو بچیان حتي په لوڅرني زده کړه کي هم له نورو ډیر وروسته پاتي دي .

د جنسي آزادي؟!! ایډز تر...

وروسته تر اوسه ددي ناروغي له کبله ۳۸ لکه کوچنیان وژل شویدي او د همدي ناروغي له کبله د بالغو انسانانو د مرګ شمیره اته میلونو او شل زرو ته رسیږي .

یادونه

ښایي ستاسو ایمان په اجازه درنکړي چي دا ډول سپیڅلي پاڼي په ناوړو ځایونو کښي وغورځوي.

اما بنینو بنام دفاع از حقوق زن افغان شعایر دیني و عنعنات ملي ما را توهین مي نماید

د شریعت تبصره

امسال ۸ مارچ در سراسر جهان بنام روز بین المللي زن نامیده شده و پیرامون جنبه هاي مختلف حقوقي ، اجتماعي، سیاسي و... زن مقالات و سخنراني هاي ابراد و بدست نشر خواهد رسید .

به یقین زن به حیث دختر ، عطوف ترین و مهربان ترین اولاد انسان و به حیث خانم و شریك زندگي یار، مونس و باعث آرام و سکون مرد و چراغ خانه، او به حیث مادر ، گرامي ترین و پروقارترین موجود جامعه بشري اتشکیل میدهد.

زن در شریعت اسلامي به حیث یك رکن مستقل و داراي شخصیت کامل حقوقي و اجتماعي جامعه انساني پنداشته شده وجایب و مکلفیت هاي دیني و بشري علي السویه به هر دو نوع بشر (مرد و زن) یکسان راجع بوده و هر یك در مقابل همدیگر و اجتماع بشري مسوولیت هاي شرعي و انساني دارند .

در ادوار تاریخ اسلام و زندگي امت اسلامي زن هاي مسلمان در تمام جوانب زندگي [illegible]

[illegible]

SHARIAT WEEKLY
Published by
Islamic Movement of Taliban - Afghanistan
Chief Editor: Mawlavi Abdul Rahman Ahmad Hotaki,
Editor: Mula Asadullah Hanifi,
Peshawar ,Tel # : 844331-818157-815627
Fax: 816088 , Peshawar
Account No : 71-8 Allied Bank of Pakistan LTD
Shopping Plaza KarKhano Peshawar
Printed by: Dawlati Printing Press

د ګډون بیه له هیواد نه بهر

ملك	شپږ	کلني
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300